


اوونيزه
# اباديّ
هفته‌نامه آبادی

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

ګڼه: ۲۰ | مسلسل نمبر: ۱۱۰

چهارشنبه، د صفر المظفر ۲۶مه، ۱۴۴۷هـ.ق کال


## د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري پاشدان بند ګټې اخيستنې ته وسپارل شو



۲ صفحه

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند؛ د خپلواکۍ ساتلو لپاره بايد عصري زده کړو او ټکنالوژۍ ته مخه کړو



۲ مه صفحه

## له ازبکستان سره د ۲۴۳ میلیون ډالرو په پانګونې د بريښنا څلورو پروژو قراردادونه لاسليک شول



۳مه صفحه




د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د ۱۴۰۴ لمريز کال د اسد مياشتې په ۲۳مه نېټه د هرات ولايت په کرُخ ولسوالۍ کې د پاشدان بند ګټې اخيستنې ته وسپارل شو. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال وويل، افغانان نن په داسې حال کې د خپلواکۍ څلورمه کليزه لمانځي چې اسلامي امارت په تېرو څلورو کلونو کې د اسلامي شريعت د تطبيق او په سياسي او اقتصادي برخو کې ګټې لاسته راوړنې لري. د حاجي ملا صاحب په خبره، له همدې موضوعاتو يوه مهمه پروژه د پاشدان بند دی چې ګټې اخيستنې ته وسپارل شو. محترم ملا صاحب زياته کړه: «تېر کال مې د دې پروژې د پاتې چارو د پيل پر مهال ژمنه درسره کړې وه، چې اسلامي امارت به د پاشدان بند پاتې چارې په ټول توان بشپړوي. له نيکه مرغه، دا دی د پاشدان بند پاتې چارې بشپړې سوې.»

اوبه په اوسني عصر کې حياتي اهميت لري. نو بنه خبره داده چې د هېواد په کچه د اوبو مهارولو له پاره لوی او کوچني بندونه جوړ شي. دا چې د اوبو د بندونو جوړول لګښت ته اړتيا لري، خو د سطحي اوبو، تر څمکه لاندې اوبو د زېرمو تغذيه او د اوبو د بې ځايه لګښت له پاره اړينه ده چې بندونه جوړ او يا هغه بندونه چې پخوا جوړ شوي، چارې يې نه دي بشپړې شوې، د هغو پاتې چارې بشپړې شي. په دې سره به له يوه لوري په هېواد کې د کرنې او سوداګرۍ سکتورونه وده وکړي او له بل لوري به هېواد تر يوه بريده له بهر څخه د واردېدونکي بريښنا څخه خلاصې ومومي. د بريښنا په برخه کې د شته ستونزو په له منځه وړلو به د افغانستان صنعت پرمختګ وکړي او د صنعت په پرمختګ سره به اقتصادي ټيکاو رامنځته شي.

اسلامي امارت پورتنيو ټکو ته په پاملرنې سره د اوبو مهارولو او مديريت په برخه کې رغنده ګامونه پورته کړي دي چې ښه بېلګه يې همدا د هرات ولايت د پاشدان بند د پاتې چارو بشپړول دي. د اسلامي امارت مسوولينو تل په خپلو خبرو کې پر دې خبره ټينګار کړی دی چې د افغانستان پرمختګ او ابادولو ورته لومړيتوب لري. بله دا چې اسلامي امارت د هېواد د ابادۍ په برخه کې شعار نه بلکې تل عمل کوي. د پاشدان بند د پاتې چارو د پيل په مراسمو کې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ژمنه کړې وه چې اسلامي امارت به په ټول توان د پاشدان بند پاتې چارې بشپړوي، اوس يې دغه ژمنه پوره کړه او د پاشدان بند پاتې چارې بشپړې او ګټې اخيستنې ته وسپارل شو. تر ټولو مهمه خبره داده چې اسلامي امارت د هېواد د پربمانه اوبو د مهارولو او مديريت له پاره قوي هوډ لري. هڅه يې داده چې په ټول توان اوبه مهار او د هېواد شاړې دښتې زرغونې او سمسورې شي. د پاشدان بند د چارو په بشپړېدو سره به اوبه مديريت، کرنيزې ځمکې به خړوبې او يوه اندازه بريښنا به هم توليد شي. له دې چارې سره به له يوه لوري د کرنې برخه پوره وده وکړي، د کرنيزو محصولاتو په برخه کې به افغانستان پر ځان بسيا شي. له بل لوري به په کور د ننه بريښنا توليد او په دې سره به صنعت وده وکړي. د دې چارو په ترسره کېدو به د هېواد اقتصاد غښتلی شي او هېواد به د پرمختګ په لور ګړندي ګامونه پورته کړي.

ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصــادي او ټــولنيزو مسايلــو په برخــه کــې
د رياســت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه
اباديّ اوونيزه
هفته نامه آبادی

# د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري پاشدان بند ګټې اخيستنې ته وسپارل شو



د رياســت‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني بــرادر اخوند له لــوري د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د اسد مياشــتې په ۲۳مه نېټه د هرات ولايت په کرُخ ولسوالۍ کې د پاشدان بند ګټې اخيستنې ته وسپارل شو. د رياست الوزراء اقتصادي مرســتيال وويل، افغانان نن په داســې حــال کې د خپلواکۍ څلورمه کليــزه لمانځي چې اسلامي امارت په تېرو څلورو کلونو کې د اسلامي شريعت د تطبيق او د ســياسي او اقتصادي برخو په ډګر کې ګټې لاســته راوړنې لري. د هغه پــه خبره، له همدې جملې يوه مهمه پروژه د پاشــدان بند ده چې نن ګټې اخيستنې ته سپارل کېږي. مــحترم ملا عبدالغني برادر اخوند د پاشــدان بند پروژه د هرات ولايت له پاره مهمه او حياتي وبلله او ويې ويل، په دې سره به په دغه ولايت کې د وچکالۍ اغېزې راکمې او د بزګرانو ســتونزې به حــل شي. محترم ملا صاحب زياته کړه: «تېر کال مې د دې پروژې د پاتې چارو د پيل پر مهال ژمنه درسره کړې وه، چې اسلامي امارت به د پاشــدان بند پاتې چارې په ټول توان بشپړوي. له نېکه مرغه، دا دی د پاشــدان بند پاتې چارې بشپړې سوې.» محترم ملا صاحب وويل، په تېر کې د اشــغالونو له امله د هېواد اقتصــاد وده نه ده کــړې او د نــورو هېوادونو پر مشروطو مرســتو ولاړ و. خو اسلامي امارت هوډ کړی چې د هېواد اقتصادي وضعيت په رښــتينې معنی پياوړی او د نــورو له احتياج څخــه خلاص کړي. د رياســت‌الوزراء اقتصادي مرستيال زياته کړه، اسلامي امارت د هېواد اقتصادي وضعيت د ښــه کېدو له پاره د ملي او سيمه‌ييزو پروژو ملاتړ کوي. په هــرات ولايت کې د تاپي پروژې د کارونــو جريان ثابتوي چې اسلامي امارت په ســيمه کې اقتصادي همغږۍ، متقابله همــکارۍ او ثبات غواړي. د هغه په خبره، اسلامي امارت د افغانســتان او ســيمې د اقتصادي ثبات لپــاره اقتصاد محوره پاليــسي تعقيبوي. مــحترم ملا عبدالغني برادر اخوند وويل: «اسلامي امارت غواړي له خپلو ټولو طبيعي سرچينو څخه ســالمه اســتفاده وکړي او د چا د حق اخيستلو هوډ نه لري. موږ غواړو چې هم خپلې اوبه په ســالم ډول مديريــت کړو او هم د نورو ثابــت حقوق ورکړو. د اوبو لــه مديريت څخه مو موخه د خپل هېواد د اقتصاد پياوړي کول دي. په هېواد کې د بې وزلــۍ، بې کارۍ او مهاجرت کچــې راټيټولو لپاره د اوبو مديريت له اســاسي کارونو څخه ګڼو.» د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال پر ټولو کورنيو او بهرنيو پانګوالو غږ وکړ چې د اوبو او کرنې سکتور تر څنګ په نورو سکتورونو کې هم پانګونه ترسره او له دې فرصت څخه اســتفاده وکړي. په پــای کې مــحترم ملا عبدالغــني برادر اخونــد ټولو هېوادوالو ته د دې سترې پروژې د بشپړېدو مبارکي وويله او د اسلامــي امــارت له مســوولينو، د پاشــدان بند له انجينرانــو، تخنيکي ټيمونو، کارګرانو او ټولو هغو کســانو څخه يې مننــه وکړه، چې د دې بند په بشــپړولو کې يې همکاري کړې ده. د يادونې وړ ده چې پاشــدان بند د ۵۴ ميليون متر مکعب اوبو د ذخيــره کولو، د ۱۳ زره هکتاره ځمکې د خړوبولــو او دوه ميګاواټه برېښــنا د توليد وړتيا لري، چې زرګونو هېوادوالو ته به د کار زمينه برابره کړي.

# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند؛ د خپلواکۍ ساتلو لپاره بايد عصري زده کړو او ټکنالوژۍ ته مخه کړو

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د اســد مياشــتې په ۲۸مه نېټه په ملي دفاع وزارت کې د افغانستان خپلواکۍ ترلاســه کولو د ۱۰۶مې کليزې په مناســبت جوړو شــوو مراســمو کې ګډون وکــړ. د رياســت‌الوزراء اقتصادي مرستيال په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو ته وويل، د زمري ۲۸مې ورځې خپلواکي په اســانه نه ده ترلاســه شوې، بلکې د ډېرو قربانيو او زحمتونو په بدل کې ګټل شــوې، خو له بده مرغه افغانان د خپلــو داخلي جګړو، تفرقو او دسايســو له امله ونه توانېدل چې دغه خپلواکي وساتي. په مسلسله توګه مو امکانات له لاسه ورکړل او له داخل څخه وپاشل شوو، چې هېواد مو د نورو استعماري قدرتونو تر ښکېلاک لاندې راغی؛ مګر د پخوا په څېر بيا هم افغانانو هېڅ استعماري قدرت ته اجازه ورنکړه چې په دې خــاوره د ارام خوب وکــړي. د زمري په ۲۴مه چې غربي اشغال له ماتې سره برابره ده، يوځل بيا مو ټولې نړۍ ته وښــوده چې افغانان په خپله خاوره د بل واک نه مني او له شــل کلنې نه سترې کېدونکې مبارزې وروسته مو پــه پوره مېړانه او شــهامت خپلواکي واخيســته.» د رياســت‌الوزراء اقتصادي مرستيال زياته کړه، د خپلواکۍ ورځو له نمانځنې څخه بايد زموږ اســاسي موخه نه يوازې د هغه وخت د قربانيو او مېړانې يادونه وي؛ بلکې اساسي موخه بايد دا هم وي چې ترلاسه شوې خپلواکي وساتو او په بشــپړه معنا د هر ډول ســياسي، اقتصادي او نظامي اســتعمار د بيا تکرار مخه ونيســو. محترم ملا عبدالغني بــرادر اخوند وويل: «موږ انقلابونه په ډېره درنه بيه ګټلي دي، چې د نــورو لاملونو تر څنګ يې يــو عمده علت د مادي اسبابو عدمِ مساوات و. د دې ګټلي انقلاب د ساتلو

ABAADI ONLINE WEEKLY

ابادي

د اقتصـادي او ټـولنيزو مسايلــو په برخــه کــې
د رياســت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

لپاره نه بايـد د قربانيو درنه بيه پرې کړو؛ بلکې د عصر د غوښتنو مطابق عصري زده کړو ته مخه کړو، د ټکنالوژۍ او عصري وسايلو څښتنان شو، دښمن ته د نوک ځواب په سـوک او د مرمۍ ځواب په ميزايل ورکړو. ټول افغانان د لويو ديني او ملي ارزښتونو د ساتنې لپاره يو موټی شو، په يو او بـل نوم رامنځته شـوې تفرقې له منځه يوسـو او پرېږدو چې خدای مه کړه دا سپېڅلی نظام د بې اتفاقۍ او تنګ نظرۍ ښکار شي.» محترم ملا صاحب وويل، له غربي اشغال څخه د خپلواکۍ په اخيستو سره ښرته افغان ملت د خپل غرور او واک څښتن شو، چې لله الحمد اوس مو نه ملت اسير دی، نه مو سياسي او اقتصادي برخليک بـل څوک ټاکي، نه مو مـال او ناموس ته په بده سترګه کتـل کېږي او نه د بل چا په اشـارو پرېکـړې کوو. له انګريزي ښـکېلاک څخه د هېواد د خپلواکۍ د ۱۰۶مې کليزې په مناسبت جوړو شوو مراسمو کې د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال پر ټولو بهر مېشتو افغانانو غږ وکړ، چې خپل هېواد ته راشـئ، د خپل نظام او ملت ترڅنګ ودرېږئ او د نورو په لمسـون له بـې ځايه تخريب لاس واخلـئ. اسلامي امارت ستاسـې خپل نظام دی، ښـه راغلاسـت درته وايي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند همداراز پر ټولو هېوادونو هم غږ وکړ، چې د افغانستان په اړه بد نيت ونه لري، اسلامي امارت هرڅه څاري او په اړه يې محاسـبې لري. هغـه زياته کـړه: «رابولو يې چې د افغانسـتان له تاريخ څخه زده کړه وکړئ، دا ملت څوک اسـير نه شي نيولی؛ د لاسوهنې او تقابل پرځای د اصولو پـه چوکاټ کې راسره هـر اړخيز سـياسي او اقتصادي تعامل تـه لار هواره کړئ؛ همدا کار د سـيمې او نړۍ هېوادونو د امنيت او اقتصادي تعامل لپاره اسـاس ګڼل کېږي.» په پای کې د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د زمـري ۲۸مې وياړلې ورځې له املـه ټولو هېوادوالو ته مبارکـي وويله او د ازادۍ د ګټلو پـه لاره کې يې د ټولو شـهيدانو او اتلانو روحونو ته دعـا وکړه. د يادونې وړ ده چې د افغانسـتان د خپلواکۍ اخيستو د ۱۰۶مې کليزې د لمانځنې په مناسـبت د جوړو شـوو مراسـمو په پای کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ازادۍ پر څلي د ګلونو ګېډۍ هم کېښوده



# له ازبيکســتان سره د ۲۴۳ ميليون ډالرو په پانګونې د برېښنا څلورو پروژو قراردادونه لاسليک شول

د رياســت‌الوزراء اقتصــادي مرســتيال مــحترم ملا عبدالغنــي برادر اخوند په حضور کې د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د اســد مياشــتې پــه ۲۶مــه نېټــه د حکومت د اطلاعاتو او رسـنيو مرکز کې د افغانستان برېښنا شرکت او ازبيکســتان ترمنځ د برېښــنا څلورو پروژو قراردادونه لاسليک شــول. د دې قراردادونو د لاسليک پرمهال د ازبيکســتان د انرژۍ وزير جورابيــک ميرزا محمدوف هم حضور درلود.


په دې پــروژو کــې د ۱۰۰۰ مېګاواټه پــه ظرفيت د سرخان – دښــت الوان ۵۰۰ کيلو ولټ برېښنا لېږد مزي غځولــو، د ۸۰۰ مېګاولټ امپير پــه ظرفيت د ارغندۍ ســب سټېشــن پراختيا، د ۸۰۰ مېګاواټه په ظرفيت د کابل – شــيخ مصري ۲۲۰ کيلو ولټ برېښــنا لېږد مزي غځولــو او د ۱۲۶ مېګاولټ امپير پــه ظرفيت د ننګرهار شيخ مصري سب سټېشــن جوړولو پروژې شاملې دي، چې د ازبيکســتان له لوري پرې شــاوخوا ۲۴۳ ميليون ډالــر پانګونه کېږي. د دې پروژو په بشــپړېدو سره به افغانســتان لــه ازبيکســتان څخه لــه ۸۰۰ تر ۱۰۰۰ مېګاواټه برېښــنا ترلاسه کړي، چې چارې به يې په ۱۸ مياشتو کې تکميل شي.





# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ازبیکستان د انرژۍ له وزیر سره وکتل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د اسد میاشتې په ۲۶مه نېټه په خپل کاري دفتر کې د ازبیکستان د انرژۍ وزیر جورابیک میرزا محمدوف او راغلي هیئت سره وکتل. د دې لیدنې پرمهال دواړو لورو د اقتصادي اړیکو او په ځانګړي ډول د انرژۍ په برخه کې د همکاریو پر پراختیا خبرې وکړې. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ووېل، د ایکو سازمان د ۱۷مې سرمشریزې په څنډه کې یې د ازبیکستان له ولسمشر شوکت میرضیایف سره د لیدنې پرمهال د کابل او تاشکند ترمنځ د سیاسي، اقتصادي او



سوداګریزو اړیکو په اړه ګټور مجلس درلود، چې اوس په هماغه مجلس کې د شوو پرېکړو د تعقیب او تطبیق په موخه په کابل کې د افغانستان برېښنا شرکت او ازبیکستان ترمنځ د انرژۍ په برخه کې د څو مهمو پروژو ترونونه لاسلیک شول. محترم ملا صاحب له ازبیک لوري وغوښتل څو د پروژو د بشپړېدو لپاره ټاکل شوي وخت او کیفیت ته ځانګړې پاملرنه وکړي. وروسته د ازبیکستان د انرژۍ وزیر جورابیک میرزا محمدوف خبرې وکړې. هغه ووېل، د ازبیکستان ولسمشر د افغانستان د اقتصادي پرمختګ او ثبات غوښتونکی دی او په همدې موخه د تاشکند او کابل ترمنځ د اقتصادي اړیکو پراختیا او د همکاریو زیاتوالي ته ځانګړې پاملرنه کوي. نباغلي محمدوف زیاته کړه، په ټاکلي وخت او ښه کیفیت سره د یادو پروژو تطبیق ته پوره چمتووالی لري او په ساختماني برخه کې به له افغان شرکتونو سره په ګډه ډېر ژر عملي کار پیل کړي. نوموړي زیاته کړه، ازبیک لوری چمتو دی چې د انرژۍ، کرنې، کانونو، صنعت، روغتیا او د متخصصینو روزلو په برخه کې له افغان لوري سره خپلې تجربې شریکې کړي.

# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د اکبر موسسې له رییس سره وکتل

د ریاســـت‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د اسد میاشتې په ۲۷مـــه نېټه په خپـــل کاري دفتر کې د اکبر موســـسې له رییس نمیک حیدروف سره وکتل. په دې لیدنه کې په



افغانســـتان کې د پراختیایـــي پروژو پـــر زیاتوالي خبرې وشـــوې. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په افغانستان کې د اکبر موســـسې د فعالیتونو ســـتاینه وکـــړه او د دې موسسې له مسوولینو یې وغوښتل چې له امارتي ادارو سره په همغـــږۍ د پراختیایي پروژو زیاتوالي او په ښـــه ډول تطبیق ته پاملرنـــه وکړي. مـــحترم ملا صاحب ووېل، د اسلامي امارت په راتګ سره په افغانســـتان کې په مختلفو برخو کې پرمختګونه رامنځته شـــوي او نړیوال مرستندویه بنستونه دې د افغانستان په بیارغونه کې همکاري وکړي. وروســـې د اکبر موســـسې رییس نمیک حیدروف خبرې وکړې. هغه ووېل، په افغانستان کې د سرتاسري امنیت په ټینګېدو د پراختیایي کارونو لپاره ښه زمینه برابره شوې ده. نوموړي زیاته کړه، له همدې فرصت څخه په استفادې به هڅه وکړي چې په افغانســـتان کـــې د پراختیایي پروژو د تطبیق لپاره د نړیوالو مرســـتې راجلب او له امارتي ادارو او اړوندو مؤسســـو سره په همغږۍ یې په ښـــه ډول تطبیق کړي. په پای کې د ریاســـت‌الوزراء اقتصادي مرستیال له خپل لوري د پوره همکارۍ او ملاتړ ډاډ ورکړ.

# د ماليــې وزارت د عايداتــي فرصتونــو راپور د تاييــد وړ وبلل شو



د اقتصادي کمیســیون د تخنيکي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د اســد مياشــتې په ۲۰مه نېټه په مرمرينه مانۍ کــې ترسره شــوه. د تخنيکي کمېټې دې غونډې ته د ماليې وزارت له لوري د عايداتي فرصتونو راپور وړاندې شو. له هراړخيزې ارزونې وروسته ياد راپور د تاييد وړ وبلل شــو. د دې راپور له مخې، ماليې وزارت ۱۷ هغه عايداتي منابع په ګوته کړې چې په بياځلې فعالېدو او سم مديريت سره يــې په کلنۍ ډول د حکومــت خزانې ته په لسګونو ميلیارده افغانۍ عوايد جمع کېدلی شي. دغه راپور د تصميم نيونې په موخه اقتصادي کمېسيون ته راجع شو. همداراز دې غونډې ته د ښاري منظورو شويو پلانونو د پلي کېدو او په هغو کې د شته نمرو د ويش په اړه د جوړ شوي طرزالعمل راپور هم وړاندې شــو. دغــه طرزالعمل د يوې ګډې کمېټې له لوري جوړ شوی، چې تر توضيح وروسته به تطبيق شي.

## اخبـــار اقتصـــادی هفتـــه

### کارهای کندن‌کاری فاز دوم کانال قوش‌تیپه ۹۳ درصد پیشرفت کرده است

شرکت انکشاف ملی می‌گوید کار کندن‌کاری فاز دوم پروژه کانال قوش‌تیپه به پیشرفت ۹۳ درصدی رســیده اســت. مســوولان همواره تاکید کرده‌اند کــه این کانال با آبیاری زمین‌های زراعتی در صفحات شمال کشــور، فرصت بی نظیری برای توسعه صنایع غذایی، اشتغال‌زایی و صادرات فراهم خواهد کرد. نبی‌الله ارغندیوال، سخن‌گوی شرکت انکشاف ملی، گفت: «کارهای کندن‌کاری فاز دوم تقریباً ۹۳ درصد پیش رفته است. همچنان، کارهای ساخت سر بند این کانال بزرگ ۸۲ درصد پیش رفته و در مســیر این کانال، کار بر روی چند پل و ساختمان‌های تنظیم آب نیز جریان دارد.» آقای ارغندیوال همچنین اطمینان می‌دهد که کار در سربند ۸۲ درصد پیش رفته و کار ساخت‌وساز ۱۳ پُــل نیز جریان دارد. به گفته او، پروژه کانال قوش‌تیپه در زمان تعیین‌شده، با درنظرداشت تمام معیارهای بین‌المللی تکمیل خواهد شــد. برخی آگاهــان می‌گویند در صورت تکمیل شــدن پروژه کانال قوش‌تیپه و مدیریت خوب در بخــش توزیع آب، افزون بر ایجاد فرصت‌های کاری برای هموطنان، اقتصاد مردم نیز رشــد خواهد کرد و زمینه برای رســیدن افغانســتان به خودکفایی در محصولات زراعتی فراهــم خواهد شــد. قطب‌الدین یعقوبی، آگاه مســایل اقتصادی، در این باره چنین دیدگاهی دارد: «کانال قوش تیپه که در منطقه به‌عنوان یک کانال بزرگ محسوب می شود، پس از تکمیل به تامین آب برای زمین‌های زراعتی کمک خواهد کرد و در رسیدن افغانستان به خودکفایی از نظر محصولات زراعتی موثر خواهد بود.» هم‌اکنون کار در بخش‌های گوناگون از جمله کندن‌کاری فاز دوم، ساخت وساز پل‌ها و سربند کانال قوش‌تیپه جریان دارد. این کانال که یکی از بزرگ‌ترین پروژه‌های آبیاری افغانستان به‌شمار می‌رود، قرار است بیش از ۵۰۰ هزار هکتار زمین را در سه ولایت از جمله بلخ، جوزجان و فاریاب آبیاری کند.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

ابادي اوونیزه
هفته نامه آبادی



# افغانستان حدود ۴۰۰ کیلومتر خطوط آهن فعال دارد

افغانستان در حال حاضر حدود ۴۰۰ کیلومتر خطوط آهن اصلی و فرعی دارد که چهار بندر مهم حیرتان، آقینه، تورغندی و هرات–خواف را به کشورهای اوزبیکستان، ترکمنستان و ایران وصل می‌کند. وزارت فواید عامه می گوید که برای توسعه بیشتر این شبکه، هم‌اکنون کارهای ساختمانی فاز نخست قطعه چهارم خط آهن خواف–هرات و بازسازی مسیر حیرتان–مزار شریف در جریان است. در کنار این، تفاهم‌نامه ساخت مسیرهای تورغندی–هرات و هرات–کندهار به ارزش ۵۰۰ میلیون دالر با قزاقستان به امضا رسیده است. محمد اشرف حق شناس سخن‌گوی وزارت فواید عامه گفت: "در راستای توسعه بیشتر شبکه های ریلی در کشور اکنون کارهای ساختمانی فاز اول قطعه چهارم خواف -هرات، ترمیم مسیر حیرتان مزار شریف جریان دارد و در عین حال تفاهم‌نامه مسیر خط آهن تورغندی-هرات و هرات-کندهار به ارزش ۵۰۰ میلیون دالر با کشور قزاقستان به امضاء رسیده است." به گفته این وزارت ، در بخش زیرساخت‌های بندری نیز قرارداد توسعه بندر تورغندی به ارزش ۵ میلیون دالر با ترکمنستان امضا شده و قرار است به‌زودی کار آن آغاز شود. قرارداد سروی و دیزاین تفصیلی خط آهن هرات–کندهار به طول ۷۳۷ کیلومتر و به ارزش ۲۶۴ میلیون افغانی با سکتور خصوصی نهایی شده و کار آن جریان دارد. آقای حق‌شناس افزود: " سروی و دیزاین تفصیلی مسیر خط آهن هرات-کندهار، به طول ۷۳۷ کیلومتر در پنج بخش به ارزش ۲۶۴ میلیون افغانی میان وزارت فواید عامه و سکتور خصوصی قرارداد شده است و عملا کار آن جریان دارد." آگاهان اقتصادی می گویندکه با تکمیل شدن شبکه ریلی، افغانستان در جایگاه چهارراه ترانزیتی منطقه قرار خواهد گرفت. با این همه، سروی مسیر بلخ تا هرات به طول ۵۶۱ کیلومتر از سوی اوزبیکستان تکمیل شده است و به گفته وزارت فواید عامه، با اجرای کامل این پروژه‌ها و تفاهم‌نامه‌های ترانزیتی چون "افغان- ترانس"، افغانستان می‌تواند به چهارراه اصلی حمل‌ونقل منطقه‌ای مبدل و زمینه انتقال سریع و آسان کالاها میان کشورهای آسیای مرکزی و جنوبی را فراهم سازد.



# د ازبیکستان ۲۴۳ میلیون ډالر پانګونه
## د برېښنا په برخه کې د ځان بسیاینې یو بل ګام

فضل ولي شیراني

### سریزه

د برېښنایي انرژی د چمتو کولو له پاره خو ټکي مهم دي. لومړی دا چې نن سبا برېښنا په نړۍ کې ډېر زيات اهمیت او ارزښت لري. لامل يې دادی چې د کورونو له روښانولو نیولې بیا صنعتي، تولیدي کارخونو، ښوونځیو، پوهنتونونو، روغتونونو او حکومتي ارګانونو پورې ټول برېښنا ته اړتیا لري او ځینې خو لا داسې وسایل هم شته چې له برېښنا پرته د کار وړ نه دي. دغه راز ټکنالوژیکي وسایل خو له برېښنا پرته بې اهمیته دي او کوم اهمیت نه لري، ځکه که برېښنا نه وي، نو د هغو کارول هم ناشوني دي. له دې امله د ارزانې، باکیفیته او دوامدارې برېښنا موجودیت اړین دی. بله خبره داده چې افغانستان د برېښنا د تولید له پاره زیاتې سرچینې لري. له اوبو نیولې، بیا تر تیلو، ګاز، ډبرو سکرو، باد، لمر او داسې نور. که له دې ټولو سرچینو برېښنا تولید شي، دا دومره برېښنا ده چې داخلي اړتیاوې خو پوره کوي، کولای شو اضافي هغه يې نورو هېوادونو صادره کړو. تر تولو مهم ټکی دادی چې دا مهال افغانستان ۲۰- ۳۰ سلنې پورې خپله برېښنا لري او له ۷۰- ۸۰ سلنې پورې برېښنا له بهر په تېره بیا ګاونډیو هېوادونو څخه واردوي. که چېرې افغانستان پر دې وتوانېږي چې د خپلې اړتیا وړ برېښنا چمتو کړي، نو له یوه لوري به افغانستان نور دې ته اړتیا ونه لري چې د برېښنا چمتو کولو له پاره میلیونونه ډالر نورو هېوادونو ته ورکړي اوله بل پلوه به لکه څنګه چې مخکې ورته اشاره وشوه، دا هېواد به په هره برخه په تېره بیا اقتصادي برخه کې پر خپلو پښو ودرېږي. ځکه د برېښنا په چمتو کېدو سره د سوداګرۍ په چارو کې اسانتیاوې رامنځته کېږي. بانکي سیستمونه مو پرمختګ کوي، حکومتولي برېښنایي کېږي او له دې سره اداري او مالي پروسې اسانه او چټکې کېږي. اسلامي امارت د برېښنا اړتیا ته په پاملرنې سره د برېښنا د تولید په برخه کې ګامونه پورته کړي دي. د هېواد په بېلا بېلو ولایتونو کې د اوبو، لمریزې او بادي برېښنا د تولید پروژې پیل شوې دي. ددې ترڅنګ د برېښنا په سم ډول ویش له پاره د سب ستیشنونو جوړولو، د سب ستیشنونو د پراختیا او د برېښنا د لېږد مزو غځولو چارې هم رواني دي.





## د برېښنا سکټور ځان بسياينې اهميت

د برېښنا په سکتور کې ځان بسياينه د يو هېواد د اقتصادي پرمختګ له پاره يو مهم عامل دی. دا موضوع کولای شي پر ملي اقتصاد ځو اړخيزې او مثبتې اغېزې ولري. کولای شو له دې مثبتو اغيزو څخه يې ځينو ته اشاره وکړو. د بهرنيو سرچينو پر وارداتو اتکاء کمول او د بهرنيو اسعارو سپما. د برېښنا په توليد کې ځان بسياينه له بهر څخه د برېښنا د وارداتو اړتيا کموي، چې دا د هېواد بهرنيو اسعارو په ساتلو او د تادياتو په توازن باندې د فشار په کمولو کې مرسته کوي. د برېښنا دوامداره او ارزانه عرضه د توليدي، کرنيزو او خدماتي صنعتونو فعاليت پياوړی کوي. د بېلګې په توګه، د فولادو، سمنټو او پتروشيمي په څېر انرژي مصرفوونکي صنعتونه کولای شي په کم لګښت او پرته له وقفې فعاليت وکړي. د برېښنا دوامداره عرضه د ملي ناخالص توليد (GDP) په زياتوالي کې مرسته کوي، ځکه صنعتونه خپل توليدي ظرفيت لوړوي. د برېښنا د توليد زيربناوو په جوړولو سره ډېرى خلکو ته په مستقيم د کارروزګار زمينه برابرېږي. د دې ترڅنګ د برېښنا په برخه کې پرځان بسيا کېدو له امله د ترانسپورټ، خدماتو او سوداګرۍ په برخو کې پرمختګونه او له دې سره په غير مستقيم ډول يو زيات شمير هېوادوالو ته په غير مستقيم ډول کاري فرصتونه رامنځته کيږي. که وغواړو چې برېښنا په کافي اندازه ولرو، نو اړ يوو چې په دې برخه کې کورنۍ او بهرنۍ پانګه هم راجلب کړو. اوس مهال د افغانستان د برېښنا د توليد په برخه کې د اسلامي امارت له لوري د پانګونې ښه فرصتونه برابر شوي او تر دې مهاله يو زيات شمير کورنيو او بهرنيو پانګوالو په دې برخه کې پانګونه کړې ده. د برېښنا په سکتور کې ځان بسياينه کولای شي د نوې ټيکنالوژۍ پراختيا ته لاره هواره کړي. د دې ترڅنګ د برېښنا په سکټور کې به پرمختګ سره د دې زمينه برابريږي چې لرې پرتو او محرومو سيمو ته برېښنا ورسيږي چې دا د ژوند کيفيت، کرنې او کوچنيو سوداګريو پراختيا ته وده ورکوي. تر ټولو مهمه داده چې د پاکو سرچينو (لکه لمريزې او بادي انرژۍ) کارول د چاپيريال ککړتيا کموي، چې دا د عامې روغتيا او چاپيريالي زيانونو اړوند لګښتونه کموي. لنډه دا چې د برېښنا په سکټور کې پرمختګ او ځان بسياينه کولای شي افغانستان ته پورته ګټې ورسوي او په دې سره به مونږ وکولای شو خپل صنعت او دې ته ورته نور سکټورونه په پښو ودروو.

## د برېښنا توزيع او د هغو ګټې

دا خو سمه ده چې يو هېواد که غواړي پرمختګ وکړي، نو تر ټولو لومړی بايد د برېښنا په برخه کې پرځان بسيا شي. ځکه له برېښنا پرته يا هم پر وارداتي برېښنا تکيه نه شي کولای، د هېواد اقتصادي بنسټونه لکه صنعت پر خپلو پښو ودريږي. نو اړينه ده چې په هېواد کې د برېښنا د توليد له شته ټولو سرچينو پوره ګټه پورته او يو هېواد په دې برخه کې ځان بسياينې ته ورسيږي. د اسلامي امارت په راتګ سره د هېواد په کچه د برېښنا د توليد له پاره هلې ځلې روانې دي، له اوبو، لمر، باد او ډبرو سکرو څخه د برېښنا توليد پروژې پيل شوې چې ځينې د بشپړېدو په حال کې دي. په دې وروستيو کې د افغانستان برېښنا شرکت او د اوبو او انرژۍ وزارت د برېښنا د ويش او توزيع او د برېښنا د توليد د پروژو د پيل خبر ورکړی دی. د برېښنا شرکت ويلي چې د هرات د برېښنا ثبات او پياوړتيا په موخه يې د زازو افغانستان او کابل ملي شرکتونو سره د نږدې ۴۱ ميليون ډالرو په ارزښت ۳ تړونونه لاسليک کړي دي. د برېښنا شرکت پر خپله ايکس پاڼه ليکلي، چې په دغو تړونونو کې د پُل هاشمي او د حوت ۲۴ شهيدانو سبسټېشن جوړل او د درېيو سبسټېشتونو ترمنځ د ۲۲۰ کيلو ولټ برېښنا لېږد مزو غځول شامل دي. د برېښنا شرکت مسوولينو ويلي، چې يادې پروژې به د دوو کلونو په موده کې بشپړې شي او هرات ولايت به له ډاډمنې برېښنا څخه برخمن شي. د اوبو او انرژۍ وزارت بيا خبر ورکړی، چې په هېواد کې د ۱۷۵ ميګاواټه لمريزې برېښنا د توليد چارې روانې دي. د ياد وزارت وياند په خبره، افغانستان د لمريزې برېښنا د توليد لوړ ظرفيت لري او دغه وزارت هڅه کوي چې دغه برخه کې د خصوصي سکټور پانګونه راجلب کړي. نوموړي زياته کړې چې دامهال په ۵ ولايتونو کې د لمريزې برېښنا د توليد د ٦سترو پروژو چې ټولټال د ۱۷۵ ميګاواټه برېښنا د توليد ظرفيت لري، چارې روانې دي. د اوبو او انرژۍ وزارت مسوولين وايي، په پام کې لري په راتلونکو پنځو کلونو کې افغانستان کې له ۷۰ تر ۸۰ پورې د تجديد وړ برېښنا پروژې پلې کړي چې د توليد ظرفيت به يې له ۲۵۰۰ ميګاواټو څخه زيات وي.

## د ازبيکستان له لوري د برېښنا په سکټو کې ر د ۲۴۳ ميليون ډالرو پانګونه

اسلامي امارت د برېښنا د توليد ترڅنګ په منظم ډول د برېښنا د ويش له پاره هم ګامونه پورته کړي دي. د برېښنا توزيع د برېښنا د توليد له مرکزونو (لکه برېښنايي سټيشنونو) څخه تر مصرفوونکو (کورونو، فابريکو، دفترونو) پورې د برېښنا د لېږد پروسه ده. دا پروسه د برېښنا د شبکې له لارې ترسره کيږي، چې په کې ټرانسفارمرونه، د لېږد لينونه او د توزيع سيسټمونه شامل دي. د برېښنا توزيع سيسټم د کورونو، صنعتونو او سوداګريزو مرکزونو لپاره د برېښنا پرله‌پسې او باثباته رسولو امکان برابروي. د برېښنا په توزيع او ويش کې تر ټولو مهمه برخه د سب سټيشنونو جوړول دي چې د برېښنا په خوندي، اغېزناک او باثباته توګه د مصرفوونکو ترمنځ د ويش لپاره کارول کيږي. دا سټيشنونه د برېښنا ولتاژ بدلوي، کنټرولوي او د برېښنايي شبکې د ثبات لپاره اړين دي. سب سټيشنونه د برېښنا ولتاژ لوړوي يا ټيټوي ترڅو د لېږد او توزيع لپاره مناسب وي. دا د انرژۍ ضايعات کموي او د برېښنا رسونه موثره کوي. د اسلامي امارت له لوري د برېښنا د ويش او توزيع سيستم د پراختيا په برخه کې د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د اسد مياشتې په ۲٦مه نېټه د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د افغانستان برېښنا شرکت او ازبيکستان ترمنځ د ۲۴۳ ميليون ډالرو په پانګونې سره د برېښنا څلورو پروژو قراردادونه لاسليکېدل و. د دې قراردادونو د لاسليک پرمهال د ازبيکستان د انرژۍ وزير جورابيک ميرزا محمدوف هم حضور درلود. په دې پروژو کې د ۱۰۰۰ مېګاواټه په ظرفيت د سرخان – دښت الوان ۵۰۰ کيلو ولټ برېښنا لېږد مزي غځولو، د ۸۰۰ مېګاولټ امپير په ظرفيت د ارغندۍ سب سټېشن پراختيا، د ۸۰۰ مېګاواټه په ظرفيت د کابل – شيخ مصري

۲۲۰ کيلو ولټ برېښنا لېږد مزي غځولو او د ۱۲٦ مېګاولټ امپير په ظرفيت د ننګرهار شـــيخ مصري ســـب سټېشـــن جوړولو پروژې شـــاملې دي.  د دې پروژو په بشپړېدو سره به افغانســـتان له ازبيکســـتان څخه لـــه ۸۰۰ تر ۱۰۰۰ مېګاواټه برېښـــنا ترلاســـه کړي، چې چارې به يې په ۱۸ مياشـــتو کې تکميـــل شي. له دې څخه جوته شـــوه چې اسلامي امارت د برېښـــنا د توليد ترڅنګ په منظم ډول د برېښـــنا د ويش او توزيع له پاره هم عـــملي ګامونه پورته کړي دي.

## پایله

افغانســـتان کولای شي د خپلو پرېمانـــه طبيعي سرچينو لکه اوبـــو، لمر، باد، ګاز او ډېرو ســـکرو پـــه کارولو، د خصوصي او عامه ســـکټور د همکارۍ په جذبولو سره د برېښـــنا په برخه کې پر ځان بسيا شي. دا کار نه يوازې وارداتي برېښـــنا لګښتونه کموي، بلکې اقتصادي وده، د کارموندنـــې فرصتونـــه او د محرومو ســـيمو پراختيا هم رامنځتـــه کـــوي. د دې هـــدف ترلاســـه کولـــو لپاره، اوږدمهالـــه پلان جوړونـــې او پانګونـــې تـــه اړتيا ده. اسلامـــي امارت پـــه دې برخه کې د کورنـــۍ او بهرنۍ پانګې د جلب او جـــذب ترڅنګ، د حکومت له بوديجې څخه هم د برېښنا د توليد په برخه کې پروژې پيل کړې دي. د دې پروژو ښه بېلګه په دې وروستيو کې د هرات د پاشـــدان بند دی چې د چارو له بشپړېدو وروسته ګټې اخيســـتنې ته وســـپارل شـــو. دغه بند د کرنيـــزو ځمکو خړوبولـــو ترڅنګ يـــوه اندازه برېښـــنا هـــم توليدوي. اسلامي امارت هڅه کوي چې د برېښـــنا له ټولو سرچينو ګټه پورته او افغانســـتان په دې برخه کې ځان بسيايني ته ورسوي. پورته موږ ځو مواردو ته اشاره وکړه چې زموږ د دې ادعا پر ثبوت دلالت کوي. د دې ترڅنګ اسلامي امارت د برېښـــنا د توليد ترڅنګ په منظم ډول د برېښنا د ويـــش او توزيع له پاره هم عـــملي ګامونه پورته کړي دي چې وروســـتی هغه يې له ازبيکستان سره د برېښنا د غځولو او منظم ويش په موخه د ســـب سټېشنونو د جوړولـــو او پراختيا په برخه کې د ازبيکســـتان هېواد د ۲۴۳ ميليـــون ډالرو پانګې جـــذب و. په لنډ ډول ويلای شـــو که چيرې د برېښنا د توليد او توزيع په موخه په دې ډول عملي چـــارې روانې وي، افغانســـتان به په نږدې راتلونکي کې د برېښـــنا په برخه کې پر ځان بسيا او نور بـــه د وارداتي برېښـــنا له امله پـــه ميليونونـــو ډالر نورو هېوادونو ته نه ورکول کيږي.



# د بهرنيو اسعارو بيې

د کابـــل په شهزاده ســـرای کې د افغانی پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ٦٨,٦٠؋ | ٦٨,٦٥؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ٢٣٤؋ | ٢٣٤؋ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ٠,٧٣؋ | ٠,٧٤؋ |
| ۱ | اروپايي يورو | ٧٩,٨١؋ | ٧٩,٨٧؋ |
| ۱ | روسي روبل | ٠,٨٥؋ | ٠,٨٥؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ٧٨٨؋ | ٧٨٨؋ |
| ۱ | انګليسي پوند | ٩٢,٤٣؋ | ٩٢,٥٠؋ |
| ۱ | سعودي ريال | ١٨,٢٨؋ | ١٨,٢٩؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ١٨,٦٨؋ | ١٨,٦٩؋ |
| ۱ | چيني ين | ٩,٥٥؋ | ٩,٥٦؋ |